مطبوعاتي اعلاميه

## په افغانستان کې امریکايي ملېشه جوړونه، د قومي او سمتي تفرقې لامل

د افغانستان دفاع وزارت اعلان کړې، چې د "محلي پوځ" په نامه نوی ځواک جوړوي. ټاکل شوې چې د دغه ځواک شمېر به ۳٦ زرو نفرو ته ورسېږي. نوموړی پوځ ظاهراً په تر ګواښ لاندې ولسواليو او کليو کې د امنيت د ټينګښت او د افغان امنيتي ځواکونو د تلفاتو د کمښت په موخه پلان شوی دی.

**د حزب‌التحریر ـ ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر** د دغه ځواک رامنځته کېدل یوه بشپړه امریکايي طرحه بولي او که عملي هم شي، د امنیت ټینګښت ته کومه ګټه نه لري، بلکې په یادو سیمو کې به د لا زیاتو قومي او سمتي شخړو لامل شي.

سره له دې نوموړې طرحه په افغانستان کې د امریکا له منافقت او دوه مخیتوبه په ښه توګه پرده پورته کوي. ځکه له یوه اړخه امریکا د افغان امنیتي ځواکونو د پیاوړي کېدو شعار ورکوي؛ خو له بل پلوه په عملي ډګر کې یې تل هڅه کړې ترڅو بېلابېلې ملېشې جوړې کړي. امریکا د تاوتریخوالي په کمښت او خلکو ته د امن د فضا په رامنځته کولو کې ناکامه شوې او اوس ظاهراً هڅه کوي چې د ملېشو جوړولو په وسیله امنیت ټینګ کړي. په داسې حال کې چې اوسنۍ طرحه د محلي پولیسو (اربکیانو) یوه بله بڼه ده، کوم چې امریکایانو په ۲۰۱۰م کې رامنځ ته کړل او د ډول-ډول ترخو او ناوړه پایلو لکه: د ناامنۍ او وېرې د زیاتوالي، د خلکو د ځورولو، غلا، چور چپاو، د ملکیانو د وژلو او د قومي او سمتي شخړو د راپورته کېدو لامل شول.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**